قاصد
QASED
Strategic Research Center

# ۲۰مه کڼه

(۲۰ – ۲۶ سپتمبر ۲۰۱۹م)

(۲۹ سنبله – ۴ میزان ۱۳۹۸ هـ ش)

## د افغان جګړې د مړګ‌ژوبلې اوونيز راپور



قاصد د ستراتېژيکو څېړنو مرکز په افغانستان کې د جګړو او امنيتي پېښو له کبله ښکېلو لورو او ملکي خلکو ته اوښتې مرګ‌ژوبله په دقيق ډول څاري او دغه اوونيز راپور ترې چمتو کوي. په دغو راپورونو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې د افغان حکومت د سرچينو، د طالبانو د سرچينو، په سيمه کې عيني شاهدانو او نورو بېلابېلو ادارو او باوري سرچينو د معلوماتو له مخې راټولېږي. د دغو راپورونو اساسي موخه د رواني جګړې درنو زيانونو ته د واکمنو چارواکو او مسؤولو لورو پام راړول دي.

www.qased.org

info@qased.org

077 281 58 58

## سریزه

دغه راپور د ۲۰۱۹م کال د سپټمبر له ۲۰مې تر ۲۶مې (د ۱۳۹۸ لمریز کال د وږي له ۲۹مې د تلې تر ۴مې) نېټې پورې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې رانغاړي. په دې اوونۍ کې د ټول هېواد په کچه ۴۲۹ تنو ته مرګ‌ژوبله اوښتې، چې ۲۵۲ پکې وژل شوي او ۱۷۷ نور یې هم ټپیان شوي دي.

په ټوله کې د تېرې اوونۍ راپور ښیي، چې د ټول هېواد په کچه ښکېلو لورو او ملکي وګړو ته د تېرې اوونۍ په پرتله د مرګ‌ژوبلې کچه یو څه راټیټه شوې ده؛ خو دا اوونۍ بیا هم د ملکي وګړو لپاره خونړۍ وه. به دې اوونۍ کې تر ټولو خونړۍ پېښه، د هلمند ولایت په موسی قلعه ولسوالۍ کې د افغان او بهرنیو ځواکونو له لوري د واده پر مراسمو هوایي بریدونه وو، چې لږ تر لږه پکې د ښځو او ماشومانو په ګډون ۴۰ کسان وژل شوي دي. د افغان ځواکونو لپاره هم تر ټولو خونړۍ پېښې د فاریاب په پشتونکوټ ولسوالۍ او د کندز ولایت په علي آباد ولسوالۍ کې وشوې. په دغو دوو پېښو کې لږ تر لږه ۲۳ تنه افغان امنیتي سرتېري وژل شوي دي. همدا راز د دولت وسله والو مخالفینو ته بیا هم د تېر په څېر ډېره مرګ‌ژوبله د افغان او بهرنیو ځواکونو په هوایي بریدونو کې اوښتې ده.

لاندې په راپور کې، په ترتیب سره د افغان ځواکونو، د دولت د وسله‌والو مخالفینو، ملکي خلکو او بهرنیو ځواکونو د مرګ‌ژوبلې شمېرې او جزئیات په جلا جلا عنوانونو کې لولئ.

## افغان ځواکونو ته اوښتې مرګ‌ژوبله

**د سپټمبر ۲۰مه:**

د لوګر ولایت د امنیه قوماندانۍ د امنیت آمر پر موټر د هاوان مرمۍ لګېدلې، چې له کبله یې نوموړی آمر او ۳ ساتونکي یې ټپیان شوي دي.

**د سپټمبر ۲۱مه:**

د بلخ ولایت په زاري ولسوالۍ کې د سیمه‌ییزو پولیسو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ وسله‌واله نښته کې ۵ سیمه‌ییز پولیس وژل شوي او ۱۰ نور ټپیان شوي دي.

د کابل ښار یوولسمې ناحیې اړوند، د سلام مخابراتي شرکت پر څانګه دوه چاودنې شوې چې له کبله یې یو پولیس ټپي شوی دی.

د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ د غزني ولایت د مقر ولسوالۍ په کمپنۍ سیمه کې وسله‌واله نښته رامنځته شوه، چې په پایله کې یې یو پولیس ټپي شوی دی.

**د سپټمبر ۲۲مه:**

د پکیتا ولایت په ډنډ پټان ولسوالۍ کې د سړک تر غاړې ځای پر ځای شوی ماین پر یوه سراچه ډوله موټر چاودنه کړې، چې له کبله یې ۳ سرحدي پولیس وژل شوي دي.

د فاریاب ولایت په قیصار ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو او افغان ځواکونو د وسله‌والې نښتې په پایله کې یو پولیس وژل شوی او یو بل ټپي شوی دی.

د کندهار ولایت په ارغستان ولسوالۍ کې د سړک تر غاړې ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له کبله یو پولیس وژل شوی او ۵ نور ټپیان شوي دي.

**د سپټمبر ۲۳مه:**

د بغلان ولایت د نهرین او دوشي ولسوالیو ترمنځ، وسله‌والو طالبانو د ملي امنیت درې کارکوونکي تښتولي وو، چې وروسته یې یو وژلی او دوه نور یې بېرته خوشې کړي دي.

د بدخشان ولایت د شهر بزرګ ولسوالۍ په انګاریان سیمه کې د سیمه‌ییزو پولیسو قوماندان د طالبانو په کمین کې وژل شوی دی.

د پکتیا ولایت د متاخان ولسوالۍ په کرموي سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د وسله‌والې نښتې په پایله کې یو پولیس وژل شوی او یو ټپي شوی دی.

**د سپټمبر ۲۴مه:**

د کندز ښار دریېمې امنیتي حوزې اړوند، یو د ملي امنیت کارکوونکی د وسله‌والو طالبانو له لوري ووژل شو.

په کندهار ښار کې یو پولیس د دوو نامعلومو موټر سایکل سپرو وسله‌والو له لوري ووژل شو.

وسله‌والو طالبانو د کندز ولایت په علي آباد ولسوالۍ کې د پولیسو پر یوه پوسته برید وکړ، چې په پایله کې ۱۰ پولیس ووژل شول.

**د سپټمبر ۲۵مه:**

د فارياب ولايت په قرمقول ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو وسله‌واله نښته رامنځته شوه، چې په پايله کې يې ۳ پوليس وژل شوي دي.

وسله‌والو طالبانو د فارياب ولايت په پشتونکوټ ولسوالۍ کې په يوه پوسته بريد وکړ چې له کبله يې ۱۳ د عامه ساتنې پوليس وژل شوي او ٦ نور ټپيان شوي دي.

وسله‌والو طالبانو د فارياب ولايت د بلچراغ ولسوالۍ په مرکز بريد وکړ، چې په پايله کې يې يو د ملي اردو سرتېرى وژل شوى او ۳ نور ټپيان شوي دي.

**د سپټمبر ۲٦مه:**

وسله‌والو طالبانو د سمنگان ولايت په درهٔ صوف پايان ولسوالۍ کې د پوليسو پر پوسته بريد وکړ چې په پايله کې يې ۵ پوليس وژل شوي او ۵ نور ټپيان شوي دي.

د جوزجان ولايت په درزاب ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو د پوليسو پر پوسته بريد کړی چې له کبله يې ۴ پوليس وژل شوي ۵ نور ټپيان شوي دي.

**جدول ۱: افغان ځواکونو ته اوښتې مرگ‌ژوبله**

| نوم | وژل شوي | ټپيان | ټول وژل شوي او ټپيان |
|---|---|---|---|
| ملي اردو | ۱ | ۳ | ۴ |
| پوليس | ۵۰ | ۳۹ | ۸۹ |
| مجموعه | **۵۱** | **۴۲** | **۹۳** |

## د دولت د وسله‌والو مخالفینو مرګ‌ژوبله

**د سپټمبر ۲۰مه:**

د لوګر ولایت په کمال خېلو سیمه کې د بهرنیو ځواکونو په هوايي برید کې ۵ طالب جنګیالي وژل شوي دي.

**د سپټمبر ۲۱مه:**

د بلخ ولایت په زاري ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په هوايي او ځمکني بریدونو کې، د نوموړې ولسوالۍ د وسله‌الو طالبانو ولسوال او ۸ نور وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۱۳ نور ټپیان شوي دي.

د کندهار ولایت په ارغستان ولسوالۍ کې د بهرنیو ځواکونو په بریدونو کې ۱۰ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو ترمنځ د غزني ولایت د مقر ولسوالۍ په کمپنۍ سیمه کې وسله‌واله نښته رامنځته شوه، چې په پایله کې یې ۴ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۷ نور ټپیان شوي دي.

**د سپټمبر ۲۲مه:**

د فاریاب ولایت د قیصار ولسوالۍ په ساق سیمه کې وسله‌والو طالبانو غوښتل د ټاکنو د کمیسیون پر دفتر برید وکړي، چې له افغان ځواکونو سره په نښته کې ۲ وسله‌وال طالبان ووژل شول.

د غزني ولایت په خواجه عمري، ده‌یک او اندړو ولسوالیو کې د افغان ځواکونو په ځانګړو عملیاتو کې ۱۴ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د پروان ولایت په مرکز چاریکارو کې د افغان ځواکونو په ځانګړو عملیاتو کې ۷ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**د سپټمبر ۲۳مه:**

د هلمند ولایت په موسی قلعه ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په برید کې ٦ وسله‌وال جنګیالي وژل شوي دي.

د خوست ولایت د تڼیو ولسوالۍ په لغوړي پیران سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د وسله‌والې نښتې له کبله ۴ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د پکتیا ولایت د متاخان ولسوالۍ په کرموي سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د وسله‌والې نښتې په پایله کې ١٦ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۳ نور ټپیان شوي دي.

په ننګرهار ولایت کې د وسله‌والو طالبانو او داعش ترمنځ نښته رامنځته شوه، چې په پایله کې یې ۹ تنه داعش جنګیالي او ۲ طالب وسله‌وال وژل شوي او ۲ نور طالب وسله‌وال ټپيان شوی دي.

د زابل ولایت د شینکۍ ولسوالۍ په سیوري سیمه کې، د هوايي برید له کبله ۹ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**د سپتمبر ۲۴مه:**

د تخار ولایت په دشت قعله ولسوالۍ کې، د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د وسله‌والي نښتې له کبله یو وسله‌وال طالب وژل شوی او یو بل ټپي شوی دی.

د زابل ولایت په اټغر او د اروزګان ولایت په چورې ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو په بریدونو کې ٦ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۸ نور ټپیان شوي دي.

د هلمند ولایت د نهرسراج ولسوالۍ په یخچال سیمه کې د افغان ځواکونو په چاپیزو عملیاتو کې ۳ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۲ نور ټپيان شوي دي.

**د سپتمبر ۲۵مه:**

د فاریاب ولایت په قرمقول ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو وسله‌واله نښته رامنځته شوه، چې په پایله کې یې ۲۰ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۳۷ نور ټپیان شوي دي.

**جدول : د دولت وسله‌والو مخالفینو ته اوښتې مرګ‌ژوبله**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| **طالبان** | ۱۱۸ | ۷۵ | ۱۹۳ |
| **داعش** | ۹ | - | ۹ |
| **مجموعه** | **۱۲۷** | **۷۵** | **۲۰۲** |

## ملکي وګړو ته اوښتې مرګژوبله

**د سپټمبر ۲۰مه:**

د کندهار ولایت په سپین بولدک ولسوالۍ کې د یوې چاودنې له کبله ۲ ملکي وګړي وژل شوي او ۵ نور ټپیان شوي دي.

د لوګر ولایت په پل علم کې پر ملکي وګړو، چې د جمعې له لمانځه څخه د کورونو په لور روان وو، د ماین چاودنه وشوه چې له کبله یې ۲ تنه وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د تخار ولایت د ینګي قلعه ولسوالۍ په شهر کهنه سیمه کې د سړک تر غاړې د ځای پرځای شوي ماین د چاودنې له کبله د یوه شپږ کلن ماشوم او یوې ښځې په ګډون ۳ تنه وژل شوي دي.

**د سپټمبر ۲۱مه:**

د پروان ولایت مرکز د چاریکارو ښار دریمې امنیتي حوزې اړوند په شاه مست قلندر سیمه کې د هاوان یوه پخوانۍ مرمۍ چاودلې او له کبله یې یوه ښځه وژل شوې او د شپږو ماشومانو په ګډون ۸ تنه ټپیان شوي دي.

**د سپټمبر ۲۲مه:**

د پکتیا ولایت د ډنډ پټان ولسوالۍ په حسن خېلو سیمه کې د سړک تر غاړې ځای پر ځای شوی ماین پر یوه سراچه ډوله موټر چاودنه وکړه، چې له کبله یې ۳ ملکي وګړي وژل شوي دي.

د پروان ولایت د سیدخېل ولسوالۍ په سه دکان انچو سیمه کې نامعلومو وسله‌والو یو ملکي وګړی په ډزو وژلی او دوه ماشومان یکې ټپیان شول.

د ننګرهار ولایت مرکز جلال آباد ښار څلورمې ناحیې اړوند سیمه کې په یوه شخصي موټر پورې د نښلول شوي ماین د چاودنې له کبله یو ملکي وګړی وژل شوی او یو بل ټپي شوی دی.

د غور ولایت په دولینه ولسوالۍ کې  یو معلم، چې د وسله‌والو طالبانو له لوري په مرګ ګواښل شوی و، وژل شوی دی.

**د سپټمبر ۲۳مه:**

د هلمند ولایت په موسی قلعه ولسوالۍ کې د واده پر مراسمو د افغان او بهرنیو ځواکونو په هوایي برید کې لږ تر لږه ۴۰ ملکي وګړي وژل شوي  او ۱۸ نور ټپیان شوي دي.

د فراه ولایت په پشت کوه ولسوالۍ کې د سړک تر غاړې د ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له کبله د دوو سوداګرو په شمول ۳ ملکي وګړي وژل شوي دي.

د غزني ولایت د شلګر ولسوالۍ په جوی چهار سیمه کې د افغان ځواکونو په ځانګړو عملیاتو کې ۲ تنه ملکي وګړي وژل شوي او ۲ میرمنې ټپي شوې دي.

د غور ولایت په پساوند ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو ۳ وروڼه په یوه کمین کې وژلي دي.

د بغلان ولایت د نهرین ولسوالۍ په صیادي سیمه کې د ماشومانو یوه ډله چې په لوبو بوخت وو، ماین پرې چاودنه وکړه، یوه یې مور او یو اته کلن ماشوم وژل شوی او ۷ نور ټپیان شوي دي.

**د سپټمبر ۲۴مه:**

د پکتیا ولایت مرکز ګردېز اړوند جهاد مېنه کې یو قومي مشر د نامعلومو وسله‌والو له لوري وژل شوی دی.

په کندهار ولایت کې د ولسمشر غني پر ټاکنیز دفتر چاودنه شوې، چې په پایله کې یې د یوه ژورنالیست په ګډون ۴ ملکي وګړي وژل شوي او ۷ نور ټپیان شوي دي.

**د سپټمبر ۲۵مه:**

په هلمند ولایت کې د ولسي جرګې د غړي غلام ولي افغان پر دفتر چاودنه وشوه، چې له کبله یې ۳ تنه ټپیان شوي دي.

د جلال آباد ښار دربیمې ناحیې اړوند سیمه کې په یوه موټر پورې د نښلول شوي ماین د چاودنې له کبله یو تن ټپی شوی دی.

وسله‌والو طالبانو د فاریاب ولایت د بلچراغ ولسوالۍ پر مرکز برید وکړ، چې په پایله کې یې یوه ښځه وژل شوې ده.

د غور ولایت په فېروزکوه ښار کې د سړک تر غاړې د ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له کبله یو ملکي وګړی وژل شوی او یو بل ټپي شوی دی.

**د سپټمبر ۲٦مه:**

د کونړ ولایت په شلتن ولسوالۍ کې د پاکساني پوځ له لوري ۳ ماشومان په توغول شویو راکټي مرمیو کې وژل شوي دي.

**جدول ۳: ملکي وګړو ته اوښتې مرګژوبله**

| نوم | وژل شوي | ټپيان | ټول وژل شوي او ټپيان |
|---|---|---|---|
| ملکي وګړي | ۷۴ | ۵۷ | ۱۳۱ |
| مجموعه | **۷۴** | **۵۷** | **۱۳۱** |

## بهرنيو ځواکونو ته اوښتې مرګژوبله

**د سپټمبر ۲۳مه:**

د و سلهوالو طالبانو يوه نفوذي کس د کندهار په هوايي ډګر کې پر بهرنيو پوځيانو بريد وکړ، چې په پايله کې يې ۳ امريکايي پوځيان ټپيان شوي دي. خو د طالبانو د ادعا له مخې، په دې پېښه کې ۱۲ تنه امريکايي پوځيان وژل شوي دي.

## پايله او د اوونۍ تحليل

د دې اوونۍ راپور ښيي، چې د روان لمريز ۱۳۹۸ کال د وږي له ۲۹مې د تلې تر ۴مې (د ۲۰۱۹م د سپټمبر له ۲۰مې تر ۲۶مې) نېټې پورې د ټول هېواد په کچه ۴۲۹ تنو ته مرګژوبله اوښتې ده، چې ۲۵۲ پکې وژل شوي او ۱۷۷ نور هم ټپيان شوي دي.

په دې اوونۍ کې د افغان ځواکونو د مرګژوبلې په کچه کې يو څه زياتوالی راغلی دی. په تېره اوونۍ کې ۴۱ افغان سرتېري وژل شوي وو، خو په دې اوونۍ کې دا مرګژوبله د تېرې اوونۍ په پرتله يو څه زياته شوې او ټول ۵۱ تنه افغان سرتېري وژل شوي دي. دغه راز په تېره اوونۍ کې ۱٦۱ تنه وسلهوال جنګيالي وژل شوي وو، خو په دې اوونۍ کې بيا دا کچه هم د لږ کموالی ښودنه کوي او د هېواد په بېلابېلو سيمو کې ټول ۱۲۷ تنه طالب وسلهوال او د داعش ډلې اړوند جنګيالي وژل شوي دي. په بل اړخ کې بيا که څه هم دا اوونۍ يو ځل بيا د ملکي وګړو لپاره خونړۍ وه، خو د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې کچه پکې د تېرې اوونۍ په پرتله يو څه راکمه شوې ده. تېره اوونۍ د ملکي وګړو د وژل شوو شمېر ۱۱۵ تنه و، خو په دې اوونۍ کې بيا دا شمېره ۷۴ ته راټيټه شوې ده.

د دې اوونۍ راپور ښيي، چې ملکي خلکو ته په هلمند ولايت کې د افغان او بهرنيو ځواکونو په هوايي بريدونو کې درنه مرګ ژوبله اوښتې ده. که څه هم د افغان حکومت امنيتي ارګانونو د هلمند په موسی قلعه ولسوالۍ کې د شوې دغې پېښې په اړه ضد او نقيض معلومات خپاره کړل؛ خو په ټوله کې افغان حکومت ادعا وکړه چې دغلته يې د پاکستاني او بنګلدېشي جنګياليو په ګډون لسګونه د دولت وسله‌وال مخالفين وژلي دي. مګر د سيمې خلکو د دغې پېښې مړي او ټپيان د هلمند ولايت مرکز ته راوړل، چې د ښځو او ماشومانو په ګډون ټول ملکي وګړي وژل شوي دي. هلمنديانو په يوه لاريون کې دا پېښه سخته وغندله او له افغان حکومت څخه يې د دغې پېښې د عاملينو محاکمه کولو او سزا ورکولو غوښتنه وکړه.

د ملکي وګړو دا مرګ ژوبله داسې مهال ده، چې څه موده وړاندې افغان ولسمشر اشرف غني د شپنيو چاپو او پر ملکي هدفونو د بريدونو بندولو خبر ورکړ. د تېرو څو مياشتو په موده کې د شپنيو عملياتو او هوايي بريدونو په لسګونه پېښو کې په بشپړ ډول ملکي خلک په نښه شوي او له کبله يې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې کچه خورا لوړه شوې ده.

د ملګرو ملتونو استازي هم د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې په اړه په يوه خپره شوي اعلاميه کې ويلي، چې ښکېل لوري دې د ملکي خلکو مرګ‌ژوبلې ته جدي پاملرنه وکړي او دوی اندېښمن دي چې په تېرو څو مياشتو کې د ښکېلو لورو په جګړه کې تر ډېره ملکي وګړو ته مرګ‌ژوبله اوښتې ده. تېره اوونۍ د بيړنيو حالاتو اداري او روغتيا وزارت په يوه راپور کې هم راغلي وو، چې په تېرو ۱۲ مياشتو کې څه باندې ۳۳۰۰ تنه ملکي وګړي وژل شوي او ۱۴۶۰۰ نور ټپيان شوي دي.

په هېواد کې دا خونړۍ وضعيت او په ځانګړې توګه د ملکي خلکو پراخه مرګ ژوبله داسې مهال ده، چې د امريکا او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې له يو کال مذاکراتو وروسته په وروستي پړاو کې د امريکا د ولسمشر له لوري وځنډول شوې او په ورته وخت کې د افغانستان د ولسمشرۍ ټاکنې هغه څه دي، چې په هېواد کې يې د سولې ټينګښت او د جګړې پای ته رسېدو راتلونکی تت کړی دی.

قاصد د ستراتېژيکو څېړنو مرکز په هېواد کې د جګړې خونړي وضعيت او په تېره د ملکي خلکو پراخې مرګ‌ژوبلې ته په کتلو ټينګار کوي، چې اوسمهال سوله او د رواني خونړۍ جګړې بندېدل د هېواد ستر لومړيتوب دی او د هېواد په اوسني وضعيت کې ولسمشريزو ټاکنې بې‌معنا او د سولې پر وړاندې د لا زياتو خنډونو جوړوونکې دي. له همدې کبله پر نړيواله ټولنه او د افغان جګړې پر ښکېلو لورو غږ کوو، چې د خپل بشري مسؤوليت له مخې د سولې لپاره جدي هڅې وکړي.

### جدول ۴: د جګړې د ښکېلو لورو او ملکي خلکو مجموعي مرګ‌ژوبله

| نوم | وژل شـــوي | نوم | ټپيــــــــان |
|---|---|---|---|
| افغان ځواکونه | ۵۱ | افغان ځواکونه | ۴۲ |
| د دولت وسله‌وال مخالفين | ۱۲۷ | د دولت وسله‌وال مخالفين | ۷۵ |
| ملکي وګړي | ۷۴ | ملکي وګړي | ۵۷ |
| بهرني ځواکونه | - | بهرني ځواکونه | ۳ |
| **مجموعه** | **۲۵۲** | **مجموعه** | **۱۷۷** |
| **ټول وژل شوي او ټپيان** | **۴۲۹** | | |

پای

**Contact Us:**
Dr. Abdul Baqi Amin – General Director:
director@qased.org
abdulbaqi123@gmail.com
0789316120
Hekmatullah Zaland – Deputy Director
deputy_director@qased.org
hekmat.zaland@gmail.com
0775454048
Office:
info@qased.org
www.qased.org
077 281 58 58